# د افغانستان د قضيې د تحقيق د جلا کولو په اړه د مدني ټولنې ګډه اعلاميه

29/10/2026

موږ د نړيوالې جزايي محکمې له خوا د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر په ۵مه نېټه د نيولو د څلورو حکمونو د محرميت له لرې کولو هرکلی کوو. دغه حکمونه په ۲۰۲۵ کال کې د طالبانو د لوړپوړو چارواکو پر ضد له دې امله صادر شوه چې هغوي د جنسيت او سياسي دلايلو پر بنسټ د ځورونې چې د بشريت ضد جرم ګڼل کيږي مسؤليت لري. دا قضايي بهيرونه د هغو قربانيانو او ژغورل شويو کسانو پر وړاندې د حساب ورکونې په لور يو مهم ګام دی چې د طالبانو د جنسيت پر بنسټ د منظمو او سيستماټيکو پاليسيو او کړنو هدف ګرځېدلي دي. موږ غوښتنه کوو چې په نږدې راتلونکي کې د نيولو نور حکمونه هم صادر شي.

په هر صورت، موږ د افغانستان لپاره د قضيې د جلا څېړنې د پيلولو په اړه د جزا د نړيوالې محکمې د پريکړې او د هغو د اغېزو په تړاو چې پر قربانيانو پر حقونو او عدالت ته د هغوي په لاسرسي يې لرلای شي، ژورې انديښنې لرو. د دې پرېکړې پايلې روښانه نه دي، نو موږ غوښتنه کوو چې د قربانيانو د حقونو په اړه له دې پرېکړې څخه راپورته شوې پوښتنې په ښېرنې ډول روښانه شي.

لکه څرنګه چې موږ پوهېږو، د ۲۰۲۶ کال د جولای په ۱۵مه, د محکمې د محاکمې مخکې دويمې شعبې (Pre-Trial Chamber II) د څارنوالۍ دفتر(OTP) ته لارښوونه وکړه چې د ۲۰۲۴ کال د نومبر د شپږو هېوادونو د راجع کولو پر بنسټ يوه جلا څېړنه پيل کړي، په دې شرط چې د روم اساسنامې د ۵۳مې مادې د لومړۍ فقرې شرايط لا هم پوره وي. د څارنوالۍ دفتر د وضاحت غوښتنه وکړه او د پرېکړې د بياکتنې غوښتنه يې هم وړاندې کړه.محکمې دغه غوښتنې رد کړې او د ۲۰۲۶ کال د سپتمبر په دريمه يې خپله لارښوونه يو ځل بيا تأييد کړه. د اکتوبر په ۲۰مه, د محکمې د رياست (Presidency) اکثريت پرېکړه وکړه چې دويم وضعيت، يعنې «افغانستان II»، هماغې محکمې شعبې ته وسپاري.

خو د دې پرېکړې د اغېزو په اړه لا هم د مدني ټولنې او زيانمنو شويو قربانيانو لپاره مهمې پوښتنې او ناڅرګندتياوې شته، په ځانګړې توګه له هغې محکمې څخه چې بايد شفافې او د وړاندوينې وړ کړنلارې ولري. د دې جلاوالي حقوقي او عملي پايلې لا ډېر وضاحت ته اړتيا لري.

په ځانګړي توګه موږ پوښتنه کوو چې جلا څېړنه ولې اړينه ده، په داسې حال کې چې د څارنوالۍ دفتر له وړاندې ادعا شوی چلند څېړلی او شعبې د افغانستان د موجود وضعيت په چوکاټ کې د نيولو حکمونه صادر کړي دي. د يادونې وړ ده چې د چيلي، کوسټاريکا، هسپانيې، فرانسې، لوکزامبورګ او مکسيکو له خوا د ۲۰۲۴ د ۲۰۲۴ کال ارجاع له څارنوال څخه غوښتې وو چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې تر سره شويو جرمونو په اړه غور وکړي. زموږ په باور، دا جلا کول د قربانيانو لپاره پېچلتيا او ناڅرګندتيا رامنځته کوي. محکمه بايد روښانه کړي چې جلا کول به څنګه د قربانيانو ګټې خوندي کړي او په روان کار کې به د ځنډ، تکرار يا ګډوډۍ مخه ونيسي.

زموږ بله انديښنه دا ده چې هغه ادعا شوي جرمونه چې لا له وړاندې کافي پاملرنه نه ده ورته شوې، لا به نور هم څنډې ته کړل شي. په دې کې هغه جرمونه شامل دي چې ادعا کېږي د ۲۰۲۱ کال له اګست مخکې طالبانو، نړيوالو ځواکونو او د پخواني جمهوريت امنيتي ځواکونو ترسره کړي دي؛ له دې څخه ځينې يې، لکه څنګه چې په سپټمبر ۲۰۲۱ کې اعلان شول، د څارنوالۍ دفتر له خوا له وړاندې له لومړيتوبه غورځول شوي دي.

د مقدماتي محکمې د شعبې د ۲۰۲۶ کال د جولای د ۱۵مې نېټې پرېکړه د اصلي څېړنې د احتمالي تړل کېدو په اړه نوري اندېښنې هم راولاړوي.  دا په بشپړه توګه ناڅرګنده ده او تر اوسه يې ځواب نه دی ورکړل شوی چې د «افغانستان د اسلامي جمهوريت II وضعيت » په نوم د نوې څېړنې د پرانيستلو په پايله کې به پر اصلي څېړنه اغېز وشي او که نه، يا به ان وتړل شي. د پراخې څېړنې د راتلونکي په اړه هېڅ روښانتيا نشته، او دا هم نه ده څرګنده شوې چې د قضيې د بېلولو له لارې به محکمې ته د قربانيانو د لاسرسي حق څنګه خوندي وساتل شي.

موږ د څارنوالۍ دفتر د هغه وضاحت هرکلی کوو چې د اکتوبر په ۶مه په علني شوې دوسيه کې يې ويلي وو چې په نږدې راتلونکي کې د اصلي وضعيت د تړلو غوښتنه نه اټکلوي. په دې دوسيه کې د جنسيت پر بنسټ ځورونې، د ۲۰۲۱ کال له اګست راهيسې د طالبانو د نورو جرمونو، او له ۲۰۱۶ کال راهيسې د داعش خراسان څانګې د جرمونو په اړه رواني پلټنې يادې شوې دي. دا مهم ډاډ ورکوي، خو دا پوښتنه لا بېځوابه پاتې ده چې د څارنوالۍ دفتر به د هغو لورو پر ضد ادعاوو ته څنګه رسېدنه وکړي چې په ۲۰۲۱ کال کې ورته لومړيتوب نه ؤ ورکړل شوی. د اصلي وضعيت پرانيستی ساتل بايد د دغو ادعاوو د څېړلو لپاره له يوه باوري پلان سره مل وي.

همدارنګه، داسې هېڅ نښه نشته چې د محکمې په بهيرونو کې ګډون کوونکو قربانيانو ته د دې پرېکړې او د هغې د پايلو په اړه کوم خبرتيا ورکړل شوې وي، يا ورته دا فرصت برابر شوی وي چې ګډون وکړي او خپل نظرونه او اندېښنې څرګندې کړي. د مقدماتي محکمې د شعبې دا پرېکړه ښايي د قربانيانو پر دې حقونو د پام وړ اغېزې ولري چې آ همدارنګه، داسې هېڅ نښه نشته چې د محکمې په بهيرونو کې ګډون کوونکو قربانيانو ته د دې پرېکړې او د هغې د پايلو په اړه کوم خبرتيا ورکړل شوې وي، يا ورته دا فرصت برابر شوی وي چې ګډون وکړي او خپل نظرونه او اندېښنې څرګندې کړي. د مقدماتي محکمې د شعبې دا پرېکړه ښايي د قربانيانو پر دې حقونو د پام وړ اغېزې ولري چې آيا د جنسيتي ځورونې سربېره د نورو جدي جرمونو له امله ور اوښتي زيانونه به لا هم د محکمې د روانو څېړنو په چوکاټ کې شامل وي، او که نه، د عدالت او حساب‌ورکونې احتمالي بهيرونو ته د دوی لاسرسی به د دې پرېکړې له امله محدود او له منځه يووړل شي. زموږ په نظر، همدا هغه اغېز دی چې د قربانيانو پر ګټو يې لري او له همدې امله د هغوی نظرونو او اندېښنو ته بايد پاملرنه وشي. د قربانيانو تعامل او ونډه بايد د هغوی پر ګټو د اغېز لرونکو پرېکړو په اړه د پر وخت معلوماتو او د خپلو نظرونو د څرګندولو لپاره د معنادارو فرصتونو له لارې درناوی شي.

همدارنګه، داسې هېڅ نښه نشته چې د محکمې په بهيرونو کې ګډون کوونکو قربانيانو ته د دې پرېکړې او د هغې د پايلو په اړه کوم خبرتيا ورکړل شوې وي، يا ورته دا فرصت برابر شوی وي چې ګډون وکړي او خپل نظرونه او اندېښنې څرګندې کړي. د مقدماتي محکمې د شعبې دا پرېکړه ښايي د قربانيانو پر دې حقونو د پام وړ اغېزې ولري چې آيا د جنسيتي ځورونې سربېره د نورو جدي جرمونو له امله ور اوښتي زيانونه به لا هم د محکمې د روانو څېړنو په چوکاټ کې شامل وي، او که نه، د عدالت او حساب‌ورکونې احتمالي بهيرونو ته د دوی لاسرسی به د دې پرېکړې له امله محدود او له منځه يووړل شي. زموږ په نظر، همدا هغه اغېز دی چې د قربانيانو پر ګټو يې لري او له همدې امله د هغوی نظرونو او اندېښنو ته بايد پاملرنه وشي. د قربانيانو تعامل او ونډه بايد د هغوی پر ګټو د اغېز لرونکو پرېکړو په اړه د پر وخت معلوماتو او د خپلو نظرونو د څرګندولو لپاره د معنادارو فرصتونو له لارې  ورته درناوی وشي.

په پای کې، موږ د جزا پر نړيوالي محکمې د متحده آيالتونو  بنديزونه او د دې محکمې د قاضيانو، څارنوالانو او له محکمې سره د همکارۍ کوونکو د ګواښلو هڅې په کلکه غندو. موږ د محکمې د خپلواکۍ د دفاع په برخه کې د هغې تر څنګ ولاړ يو. په داسې فشارونو کې د قربانيانو د باور د ساتلو لپاره، د پرېکړو د لاملونو روڼ او څرګند بيان او بې‌طرفه څېړنې بنسټيز اهميت لري.

له همدې امله، موږ د لاندې اقداماتو غوښتنه کوو:

۱. د مقدماتي محکمې دويمه شعبه بايد د جلا کولو حقوقي بنسټ او پايلې، او د موجودو قضيو وضعيت او د چلند څرنګوالی روښانه کړي.

۲. د څارنوالۍ دفتر بايد هر څه ژر تأييد کړي چې ايا د «افغانستان II» څېړنه پيل شوې ده او که نه، او دا روښانه کړي چې د دواړو وضعيتونو په چوکاټ کې به رواني څېړنې او سرچينې څنګه وساتل شي. جلا کول بايد په خپله د محکمې د صلاحيت په چوکاټ کې د څېړنيزو لارو د پرېښودلو توجيه ونه ګرځي.

۳. د څارنوالۍ دفتر بايد د جرمونو د ادعاوو د څېړنې د دوامدار کمولو مړيتوبۍ بهير پای ته ورسوي او د محکمې په صلاحيت کې ټول جرمونه په مساوي توګه وڅېړي.

۴. محکمه بايد له قربانيانو، له پېښو څخه ژغورل شوو کسانو او د هغوی له قانوني استازو سره، د اغېزمنو شويو ټولنو په کچه، په معناداره او خوندي توګه مشورې وکړي؛ په دې کې هغه کسان هم شامل دي چې د څېړنو د کم لومړيتوب ورکولو له امله اغېزمن شوي دي. د مقدماتي محاکمې دويمه شعبه بايد ډاډ ترلاسه کړي چې د قربانيانو نظرونه په هغو پړاوونو کې واورېدل شي چې د دوی پر ګټو اغېز کوي.

۵. غړي دولتونه بايد د بې‌طرفه کار لپاره کافي سرچينې او همکاري برابره کړي، د شواهدو او د نيولو حکمونو اړوند غوښتنو ته د خپلو مکلفيتونو سره سم رسېدنه وکړي، او د قانوني او ډيپلوماتيکو اقداماتو له لارې د محکمې د فعاليتونو د دوام او له محکمې سره د همکارۍ کوونکو د هغو زيانونو څخه د ساتنې لپاره ګامونه پورته کړي چې د بنديزونو له امله ورپېښېږي.

د محکمې طرزالعملي ترتيبات بايد د افغانستان د وضعيت د څېړنې په ټولو برخو کې د قربانيانو، په ځانګړې توګه د افغان ښځو او نجونو، لپاره عدالت ته د لاسرسي يوه معناداره او اغېزمنه لاره خوندي وساتي. د حقيقت موندنې، عدالت ته د لاسرسي او د اوښتو زيانونو د جبران په اړه د افغان قربانيانو غوښتنې بايد د دې بهير لارښوونه وکړي.

د دې اعلامې د ټولو لاسليک کوونکو د بشپړ نوملړ د ليدلو لپاره، مهرباني وکړئ انګليسي نسخه وګورئ.